# لړلیک

| سرلیک | | مخ |
|---|---|---|
| لومړی څپرکی | | |
| لومړی لوست | ۱،۱ موقعیت او څلور خواوې | ٤ـ٣ |
| دویم لوست | ۲،۱ طبیعي جغرافیه، | ٦ـ٥ |
| دریم لوست | الف ـ غرونه ب ـ سیندونه | ۱۰ـ۷ |
| څلورم لوست | د کانګو حوزه | ۱٤ـ۱۱ |
| پنځم لوست | ج ـ جهیلونه | ۱٦ـ۱٥ |
| شپږم لوست | د ـ سمندرګی (بحیرې) | ۲۰ـ۱۷ |
| اووم لوست | هـ ـ خلیجونه | ۲۲ـ۲۱ |
| اتم لوست | و ـ اقلیم | ۲٤ـ۲۳ |
| نهم لوست | مختلفې اقلیمي سیمې | ۲۸ـ۲٥ |
| لسم لوست | ۳،۱ سیاسي جغرافیه | ۳۲ـ۲۹ |
| یوولسم لوست | ٤،۱ بشري جغرافیه | ۳٦ـ۳۳ |
| دوولسم لوست | دین او ژبه | ۳۸ـ۳۷ |
| دیارلسم لوست | ٥،۱ اقتصادي جغرافیه الف ـ کرنه او مالداري | ٤۰ـ۳۹ |
| څوارلسم لوست | ب ـ کانونه او صنایع | ٤۲ـ٤۱ |
| پنځلسم لوست | ٦،۱ مواصلاتي جغرافیه | ٤٤ـ٤۳ |
| شپاړسم لوست | د اوبو له لارې ورل او راوړل | ٤٦ـ٤٥ |
| د لومړي څپرکي لنډیز | | ٤۸-٤۷ |
| د افریقا د خپلواکو هېوادونو د ځینو جغرافیایي ځانګړنو جدول | | ٥۰-٤۹ |

## ج- جهیلونه



د افریقا د یوه جهیل منظره

د جهیل په هکله څه پوهېږئ او له جهیل څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟

د افریقا په لویه وچه کې ډېر لوی او کوچني جهیلونه شته دی، چې تر ټولو لوی یې د ویکتوریا جهیل دی او د تانزانیا او یوګندا د هېوادونو ترمنځ بېلوونکې پوله جوړوي. ډېر کوچنی جهیل یې د نګامي جهیل دی چې د بوتسوانا په هېواد کې پروت دی. د جهیلونو لع اوبو څخه د څښلو او د سمندري حیواناتو او الوتونکو د خوړو لپاره ګټه اخیستل کېږي. ځیني جهیلونه مالګین وي یعنې هغه وخت چې د جهیلونو اوبه براس شي مالګه یې رسوب کوي. همدارنګه هغه الوتونکي چې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته ځي، د لارې په اوږدوکې د همدې جهیلونو او د هغو له اوبو څخه ګټه اخلي. ددې جهیلونو له اوبو څخه د اوبو د غټو پمپونو په وسیله د ساحلي سیمو د خړو بولو لپاره ګټه اخیستل کیږي. د افریقا په لویه وچه کې ددې جهیلونو شتوالی په سیمه کې د رطوبت سبب هم کیږي او تریوه حده د هغه سیمې د وچ والي مخه نیسي. نوموړي جهیلونه زیاتره د افریقا په سوېل ختیځ کې پراته دي چې ددې لویې وچې د تکتونیکي ساحې ښکارندوی دي.

د افریقا د لویو او کوچنیو جهیلونو نومونه واخلئ؟

لکه څرنګه چې مو مخکې وویل دافریقا د لویې وچې مهم جهیل لع ویکتوریا (Victoria) څخه عبارت دی چې د تانزانیا او یوګندا هېوادونو ترمنځ بېلوونکې پوله جوړوي او لوی ښارونه هم ددې جهیل

# د- سمندرگي (بحيرې)



د مديترانې له سمندرگي څخه يو تصوير

دافريقا د سمندرگيو په هکله څه پوهيږئ او د افريقا خلك له سمندرگيو څخه څه گټه اخلي؟

د افريقا لويه وچه د ځمکنې جوړښت او سواحلو له نظره چې لري يې زيات سمندرگي نه لري.

دا لويه وچه دوه مهم سمندرگي لري چې له هغو څخه د سوداگرۍ د بېړيو د تگ او راتگ لپاره گټه اخيستل کيږي، همدارنگه له سمندرگيو څخه د کال په بېلا بېلو موسمونو کې مهاجر الوتونکي چې له يوځای څخه بل ځای ته کوچيږي د هغو له موقعيت څخه ديوې پيژندل شوې سيمې په توگه گټه اخلي. سربېره پردې د اوبو د حيواناتو لپاره خواړه هم برابروي. هغه وگړي چې د سمندرگيو په سواحلو کې استوگنه لري دهغو د کبانو په ښکار د ژوند اړتياوې پوره کوي.

د افريقا لويه وچه څومره سمندرگي لري؟

## ۱- د مديترانې سمندرگی:

د افريقا د لويې وچې په شمال کې د مديترانې سمندرگی پروت دی، چې د نړۍ لوی سمندرگی دی. پراخوالی يې ۲،۹۶۶،۰۰۰ کيلومتره مربع او ډېره ژوره نقطه يې ۴۳۳۰ متره ده. دا سمندرگی په جنوب ختيځ کې د سويز کانال په واسطه د سور سمندرگي سره نښلول شوی دی او په لويديځ کې د جبل الطارق د ابناء په واسطه د اطلس (اتلانتيک) د سمندر سره نښتی دی او لويه سوداگريزه لاره يې جوړه کړې ده. هغه هېوادونه چې د مديترانې د سمندرگي شاوخوا پراته دي د مديترانه يي اقليم او ښې هوا لرونکي دي.



د ستپ اقلیم

**٤- د صحرایي سیمې اقلیم:**

صحرایي سیمه د افریقا د براعظم په شمال کې ډېره پراخه ده، ټوله لویه صحرا په برکې نیسي. دا سیمه د سوډان او مصر څخه پیل د موریتانیا تر وروستۍ برخې پورې رسیږي او د نړۍ د لویو صحراوو څخه شمېرل کیږي. په دې سیمه کې وچه او صحرایي آب او هوا او لږ اورښت وي. په نوموړې کې شاړې او پراخه شګلنځایونه شته دي چې د کرنې لپاره ښه زمینه نشي برابرولای. دا اقلیم دافریقا په سوېل کې سوېل لویدیځه وروستنۍ برخه په بر کې نیسي او دافریقا په سوېل لویدیځ ساحل کې د یوې کوچنۍ پټۍ په څېر د عرض البلد تر ۱۰ درجو پورې غزیدلې ده. په دې سیمه کې د کالاهارۍ او نامیبیا صحراوې هم شامیلیږي.

- صحرایي سیمې د څه ډول اقلیم لرونکې دي؟

**٥- د مدیترانه یې سیمې اقلیم:**


مدیترانه یي اقلیم د افریقا په شمال کې ساحلي غاړې په برکې نیسي چې د اسکندریې څخه د مراکش تر سواحلو پورې غزیدلي دي. ددې سیمې مهم پیداوار انګور، د ستروس د کورنۍ میوې (لکه کینو، نارنج،

استراليا د اب او هوا له نظره کولای شو په څو سيمو وويشو:

۱ـ حاره يي توده اب او هوا له لانده دوبي سره په شمال کې.

۲ـ معتدله توده اب او هوا ديوه وچ فصل سره د کوينزلند په سيمه کې.

۳ـ توده معتدله او لنده اب او هوا د جنوبي ويلز په څنډه او ويکتوريا کې.




بايد يادونه وکړو چې د استراليا زياتې مرکزي او لويديځې برخې صحرايي اقليم لري.

منبع: د پوهاند عارض د اقليم پيژندني کتاب، ۱۳۸۶.

### د ټولگي دننه فعاليت:

د استراليا د آب او هوا نقشې ته وگورئ او اقليمي بېلې بېلې سيمې پکې په نښه او وښاياست.

### پوښتنې:

۱- د استراليا کومې سيمې صحرايي اقليم لري؟


۲ـ د استراليا کومې سيمې په منځنی توگه زيات کلنی اورښت لري؟

۳ـ ولې د استراليا اب او هوا توده ده؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت:

په دې هکله چې ولې د استراليا موسمونه د شمالي نيمې کرې د فصلونو معکوس دي، معلومات راټول او وړاندې يې کړئ.

# كانونه او صنايع





د استراليا كانونه او لارې

په استراليا کې د كانونو او صنايعو حالت څرنگه دی؟

استراليا د کاني توکو يو غوره توليدوونکی او صادروونکی هېواد گڼل کيږي. په ۱۸۵۱ م کال کې په استراليا کې د سرو زرو شته والي د انگليسانو او نورو اروپايانو پاملرنه ځانته راواړوله او د هغو زيات شمېر استراليا ته مهاجر شول.

د استراليا له صنايعو څخه يو تصوير




دا هېواد په نړۍ کې د اوسپنې د توليد دوهم هېواد او همدا ډول د بوکسيت، چې د المونيم د توليد لپاره ورڅخه گټه اخيستل کيږي، ډېر لوی توليدوونکی دی. نور کاني توکي چې په استراليا کې ايستل (استخراج) کيږي عبارت دي له: سرو زرو، نکل، مس، سرپ او يورانيم څخه. استراليا د امريکې د متحده ايالاتو څخه وروسته په نړۍ کې د يورانيمو دوهمه لويه زيرمه په واک کې لري. د استراليا د نفتو ډېره مهمه سيمه د باس په آبناء (Bass Strait) کې ده چې د تسمانيې د ټاپو او ويکتوريا په منځ کې پرته ده. دا هېواد کولای شي خپلې يوڅه نفتي اړتياوې

ولینګټن چې د نوي زیلاند مرکز دی له ۳۰۰ زرو څخه زیات نفوس لري. نوي زیلاند یو عصري او پرمخ تللی صنعتي هېواد دی. ددې هېواد زیاتره ځمکې غرنۍ دي او دخاوري زیاته برخه یې په ساحلي جلګو کې کرکیلې ته برابره ده، چې په هغو کې په عمومي توګه غنم، اوربشې، جودر او د څارویو لپاره واښه کرل کیږي. مناسبې اب او هوا پراخو چمن زارونو او په کرنه کې له نویو فنونو او وسیلو څخه ګټې اخیستني ددې هېواد د کرنې په پرمختګ کې مرسته کړې ده. په دغه هېواد کې کرنه وروسته له مالدارۍ څخه په دوهمه درجه کې راځي. د څارویو روزنه، په ځانګړې توګه پسه ددې هېواد په اقتصاد کې ځانګړې اهمیت لري.

طبیعي ښه چاپیریال، په نوي زیلاند کې مالداري پراخه کړېده.




المغرب
تونس
(پولیساریو)
الجزایر
لیبیا
مصر
موریتانیا
سنګال
مالي
ګامبیا
ګینه‌ی بیسانو
ګینه
سیرالئون
لیبریا
عاج ساحل
غنا
بورکینافاسو
نایجریا
چاد
سودان
اریتره
جیبوتی
اتیوپیا (حبشه)
سومالیا
کامرون
ګابن
کانګو
کابیندا
زائیر (کانګو)
اوګاندا
کنیا
رواندا
بروندی
تانزانیا
انګولا
زامبیا
مالاوی
زیمبابوی (رودیشیا)
نامیبیا
بوتسوانا
اتحادیه
سوازیلند
لسوتو
مدغاسکر
اسلامي هیوادونه
نور هیوادونه
سیند
۰ ۵۰۰ ۱۰۰۰ ۱۵۰۰ کیلومتر



۱۳۰ ختیځ
۱۳۰ لویدیځ
جاپان
د سرطان کرښه
د هاوایي ټاپوګان
د اقیانوسیې سرحد
آرام سمندر
د ماریان ټاپوګان
د ویک ټاپوګان
د مارشال ټاپوګان
د کارولین ټاپوګان
د استوا کرښه
د جلبرت ټاپوګان
د فونیکس ټاپوګان
د سلیمان ټاپوګان
د مارکینز ټاپوګان
د الیس ټاپو
د ساموا ټاپوګان
د تواموتو ټاپوګان
د جدي کرښه
مرجان سمندرګی
نوی کالډونیا
نوی هیبریډیز
د فینجي سووا ټاپو
د ټونګا ټاپوګان
کرمادك ټاپوګان
۲۳ سویلي
د پاګوس ټاپوګان
د ایستر ټاپو
د اقیانوسیې سرحد
نوی زیلانډ
تاسمان سمندرګی
استرالیا